بسم الله الرحمن الرحیم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۴۳ گڼه سلواغه ۱۴۰۳ : شماره (۴۳) دلو ۱۴۰۳ :صفحه اول:لومړی مخ



اونیزه راستنېدنه
هفته نامه عودت

د دې لپاره چې علماْ حق ووايي او دهېچا تراغېز لاندې رانه شي، نو د مدرسې او منبرونه باید آزاد او خپلواک پاتې شي .
شهید الحاج خلیل الرحمن حقاني

# د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزیر د جاپان له سفیر سره وکتل



د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر، د افغانستان لپاره د جاپان له سفیر ښاغلي تاکایوشي کورومایا، سره وکتل.

په دې ناسته کې، د جاپان سفیر د افغانستان د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو د مخکیني وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني، د شهادت له امله د خواخوږۍ او تسلیت مراتب وړاندې کړل.

هغه وویل، چې جاپان له ۲۰۲۱ کال راهیسې له افغانانو سره بشري مرستو ته دوام ورکړی دی. یوازې د تېر ډیسمبر میاشت کې یې له ایران او پاکستان څخه راستنېدونکو کډوالو ته ۱.۵ میلیونه ډالر مرسته اعلان کړه، چې دا مرستې به له ایران او پاکستان راستنېدونکو کډوالو لپاره د مؤقتې استوگنځي، روغتیا، زده کړو او ابتدايي اړتیاوو لپاره وکارول شي.

نوموړي زیاته کړه، چې له دې وړاندې جاپان د افغانستان لپاره ۲۷.۵ میلیونه ډالر بشري مرسته اعلان کړې وه، چې په روغتیا، زده کړو، د نشه‌یي توکو پر وړاندې مبارزه، بدیل معیشت، د اوبو مدیریت، او اقلیمي بدلون برخو کې به ولگېږي. هغه ټینگار وکړ چې جاپان غواړي افغانستان ثبات ته ورسېږي او په دې برخه کې د اسلامي امارت همکاري مهمه ده.

د کډوالو او بېرته راستنېدنکیو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر، د جاپان سفیر ته د ښه راغلاست ترځنگ هیله څرگنده کړه چې دا ډول ناستې به د اسلامي امارت او جاپان ترمنځ اړیکې لا پیاوړې کړي. هغه له افغان کډوالو سره د جاپان د بشري مرستو قدرداني وکړه او ټینگار یې وکړ چې بشري مرستې باید سیاسي رنگ ونه لري. هغه وویل، گاونډي هېوادونه دې په زوره د افغان کډوالو د ایستلو بهیر ودروي او اجازه دې ورکړل شي چې هغوی په داوطلب شکل هېواد ته راستانه شي.

محترم مولوي عبدالکبیر په دې ناسته کې وویل، چې راستنېدونکي افغان کډوال او بېځایه شوي افغانان بشري مرستو ته اړتیا لري او پکار ده چې اړونده مرستندویه اداري عاجلې مرستې وکړي. نوموړي وویل، چې خپلو اصلي مېنو ته د راستنېدونکیو افغان کډوالو او کورني بېځایه شوي، د ستنېدو او د هغوی لپاره د ژوند د لازم چاپېریال برابرېدو ته باید کار وشي.

د ناستې په پای کې، دواړو لورو د دوامدارو مثبتو اړیکو او همکاریو پر پیاوړتیا ټینگار وکړ.

## سرپرست وزارت امور مهاجرین با معاون نماینده ویژه سازمان ملل متحد دیدار کرد



مولوی عبدالکبیر وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان با آقای اندریکا راتوته معاون نماینده ویژه سازمان ملل متحد در افغانستان دیدار نمود.

در این دیدار آقای اندریکا راتوته از وضعیت مهاجرین افغان در کشور های همسایه نگرانی شان را ابراز داشته گفت :آنان به کمک مهاجرین افغان در زمینه های دسترسی به آب صحی، بهداشت، آموزش و سرپناه ادامه خواهند داد.

به گفته وی، برای ۱۷ شهرک مهاجرین موافقه زمین صورت گرفته است تا زمینه زنده گی خوب برای آنان فراهم گردد.

وزیر امور مهاجرین و عودت کننده گان با قدردانی از کمک های بشردوستانه سازمان ملل متحد خواهان ادامه آن شد.

وی خواهان توقف خشونت علیه مهاجرین افغان درکشورهای همسایه شده و افزود: باید برای مهاجرین افغان سهولت های لازم فراهم شود.

وزیر امور مهاجرین نگرانی خود را از روند اخراج اجباری مهاجرین افغان ابراز داشته و گفت که باید به مهاجرین افغان اجازه بازگشت داوطلبانه به کشور شان داده شود.

محترم مولوی عبدالکبیر افزود: مهاجرین و خانواده های بیجاشده که به کشور برگشته اند با مشکلات مواجه اند.

وی خواهان ارایه کمک های فوری و فراهم آوری امکانات بیشتر در زمینه اسکان مجدد و برابر نمودن تسهیلات بیشتر به آنها از نهاد های امداد رسان شد.

## د کډوالو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر د بغلان د نهرین او تاله او برفک ولسوالیو له یو شمېر مجاهدینو او علماوو سره وکتل.



د بغلان ولایت د نهرین ولسوالۍ مجاهدینو او علمای کرامو د هېواد د رغونې او ابادۍ په برخه کې د اسلامي امارت د هڅو په ستاینلو سره وویل، چې په لرې پرتو سیمو کې د امنیت په راتگ سره د رغونې چارو ته ښه زمینه چمتو شوې ده او د کاري فرصتونو رامنځته کېدو په موخه یې د رغېنزو پروژو د پیل وړاندېز وکړ.

دغو مجاهدنیو او علماوو له اسلامي امارت څخه د تاله-برفک د سړک د بیارغونې غوښتنه وکړه او په وینا یې چې د یادې لارې په رغولو سره به د گڼو سیمو د تگ راتگ په برخه کې ستونزې هوارې شي.

د کډوالو او راستنېدونکیو چارو وزارت سرپرست وزیر محترم مولوي عبدالکبیر راغلو علماوو او مجاهدینو ته ښه راغلاست ووایه او د جهاد پر مهال یې د هغوی د قربانیو او هلوځلو ستاینه وکړه.

هغه زیاته کړه، چې د ولس د غوښتنو اورېدل د اسلامي امارت مسوولیت دی او هڅې کیږي چې د خلکو وړاندېزونو ته پر وخت رسیدنه وشي .

محترم مولوي عبدالکبیر څرگنده کړه، چې د اسلامي نظام ډېر تمرکز پر رغونه دی او د ولس ټولو غوښتنو ته به پام وشي.

بسم الله الرحمن الرحیم
د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معینیت
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
د اطلاعاتو آمریت

۴۳ گڼه سلواغه۱۴۰۳ : شماره (۴۳) دلو۱۴۰۳ :صفحه دوم :دویم مخ



اونیزه راستنیدنه
هفته نامه عودت

اتشه امور مهاجرین افغان با شماری از نماینده های مهاجرین در پاکستان دیدار نمود

## اتشه امور مهاجرین افغان با شماری از نماینده های مهاجرین در پاکستان دیدار نمود

اتشه امور مهاجرین افغان مقیم خیبر پشتونخواه کشور پاکستان، با شماری ازنماینده های مهاجرین افغان مقیم آنکشور دیدار نمود.

در این دیدار نماینده های کمپ های خراسان، خزانه، ناکمان، واحد کهری و ناصر باغ رود مشکلات شان را با اتشه امور مهاجرین شریک ساختند.

اشته مهاجرین از حل مشکلات آنان با تشریک مساعی ادارات کشور میزبان و کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان اطمینان داد.

## د پاکستان په پېښور ښار کې د اسلامي امارت د اتشو ترمنځ د همغږۍ ناسته ترسره شوه

د پاکستان په پېښور ښار کې د افغان مهاجرینو چارو اتشې د خبر له مخې، د مهاجرینو چارو، پوهنې، فرهنگي چارو او ترانسپورت اتشو ترمنځ گډه ناسته وشوه.

په دې ناسته کې په دغه هېواد کې د مېشتو افغان کډوالو د ستونزو د حل او د هغوی د وضعیت، د حل د لارو چارو د موندلو او په راتلونکي کې د هغې د پلي کولو په برخه کې د کوربه هېواد له ادارو سره د همغږۍ په اړه خبرې وشوې.

## بیش از ۲۰۰ باب سرپناه دایمی در ولایت لغمان به بهره برداری سپرده شد



۲۱۱ باب سرپناه دایمی برای خانواده های برگشت کننده، بیجاشده و نیازمند در ولایت لغمان بعد از تکمیل شدن ساخت آن با حضور معاون والی آن ولایت و مردم محل طی مراسمی به بهره برداری سپرده شد.

مولوی غلام رحمن بلال رییس مهاجرین لغمان در مراسم یاد شده سخنرانی نموده گفت: سرپناه یاد شده دارای دو اتاق، آشپزخانه و یک باب تشناب بوده که با هماهنگی ریاست مهاجرین به ارزش ۵۹،۵ میلیون افغانی در مدت ۴ ماه با حمایت مالی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان ساخته شده است.

سپس مولوی اختر محمد مزمل معاون والی لغمان نیز صحبت نموده از کاکرد ریاست مهاجرین و نهاد متذکره ستایش بعمل آورد.

## بغلان کې د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې کمېټې ناسته وشوه

بغلان کې د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې کمېټې ناسته د یاد ولایت په کور او ښار جوړولو ریاست کې تر سره شوه.

په دې غونډه کې مستحقو کډوالو ته د استوگنې د ځمکو د وېش او د یادې شوې ځمکې د انتقال په اړه په لاندې موضوعاتو بحث وشو: د کمېټې غړي دې د سرپناه یا د ځمکې د درجې د ټاکلو لپاره جدول او فورمې وڅېړي او د کډوالو چارو ریاست له ډېټابیس سره له سمون وروسته دې د کمېټې د غړو په حضور کې لازم اجرات ترسره کړي.

د کرنې او مالدارۍ ریاست د لومړۍ فورمې په ترخ کې د راستنېدونکو لپاره ځمکه د سولې ښارگوټي ته چې د مرکزي بغلان ولسوالۍ د مصلح تپې په سیمه کې او د اتحاد کډوالو ښارگوټي ته چې د خواجه الوان او ډنډ غوري ولسوالۍ په میدان کې موقعیت لري، انتقالوي.

د بغلان کډوالو مېشتو سیمو کې اړمنو خلکو ته د ځمکو د وېش په برخه کې د لومړي فورم د طرحې د تصویب او د عالیقدر امیرالمومنین د فرمان د تطبیق په بهیر کې، د کمېټې غړي باید د بشپړ پلان له مخې چارې همغږي او پلي کړي.

## بیش از ۲۰۰ تن افغانهای محبوس در کشور پاکستان، از حبس آزاد شدند



۲٤۱ تن از افغانهای محبوس از کشور پاکستان، از حبس آزاد و به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلومات آمریت های سرحدی تورخم ولایت ننگرهار و سپین بولدک ولایت قندهار افراد یاد شده به دلیل نداشتن اسناد قانونی از محلات مختلف پاکستان بازداشت شده بودند و مدت ۲ الی ۲۷ روز را در زندان حاجی کمپ دربند بوده که پس از دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.

## په لغمان کې یو روغتیایي مرکز گټې اخیستنې ته وسپارل شو.



د لغمان ولایت په بادپښ ولسوالۍ کې د راستنېدونکو، بې ځایه شویو او بې وزلو کورنیو لپاره یو روغتیایي مرکز د دغه ولایت د سیمه ییزو چارواکو او د کډوالو په چارو کې د ملگرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د مشر په شتون کې له جوړېدو وروسته گټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د دغه ولایت د کډوالو چارو رییس مولوي غلام الرحمن بلال د یاد روغتیایي مرکز په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل: دغه مرکز د ۱۷ میلیونه افغانیو په ارزښت په یو پوړ کې د ملگرو ملتونو د کډوالو چارو د عالي کمېشنرۍ په مالي مرسته د لغمان د کډوالو چارو ریاست په همغږۍ جوړ شوی دی.

د لغمان والي شیخ شېراحمد حقاني هم خبرې وکړې او په دغه ولایت کې د بې ځایه شویو او راستنو شویو کورنیو د روغتیایي ستونزو د حل په برخه کې یې د دغې ادارې د همکارۍ او ملاتړ او د کډوالو چارو ریاست د هلو ځلو ستاینه وکړه.

## آمر مهاجرین ولایت بادغیس با مسوول کمیشنری ملل متحد در زون غرب دیدار نمود

مولوی نیک محمد خبیب آمر امورمهاجرین ولایت بادغیس با خانم عسل رییس کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان در زون غرب، دیدار نمود.

در این دیدار روی مشکلات عودت کننده گان، بیجاه شدگان داخلی و پروژه های اعمار مرکز صحی در ولسوالی غورماچ، اعمار سرپناه و آبرسانی در قلعه نو مرکز ولایت که کار آن تکمیل گردیده و به زودی افتتاح خواهند شد بحث و تبادل نظر صورت گرفت

خانم عسل از همکاری آمریت امورمهاجرین در طی سال گذشته میلادی قدردانی نموده و خواهان همکاری بیشتر در سال روان میلادی از آقای خبیب شد.

## سمنگان کې د دایمي مېشتېدنې او د راستنو شویو لپاره د ځمکو وېش کمېسیون ناسته وکړه

سمنگان ولایت کې د دایمي مېشتېدنې کمېسیون او د راستنو شویو لپاره د ځمکو وېش کمېسیون د کور او ښار جوړولو ریاست کې ناسته وشوه.

په پورتنۍ غونډه کې له سرحدونو رد شویو کورنیو او راستنو شویو د نوملړ په اړه چې د دې ولایت سره تړاو لري، د گټه اخیستونکو د پېژندنې څرنگوالی؛ د کمیسیون له لوري د صادر شوي فرمان د ټولو جزییاتو د تطبیق، د ولسوالیو پر اساس د ځمکو د وېش د پړاوونو لپاره د مستحقو کورنیو د ورتگ او په دې کار کې د ولسوالانو د همکارۍ په اړه بحث او لازم تصمیمونه ونیول شول.